# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۳۰ جنوری ۲۰۱۷

## دوه شپیتم مجلس(په توحید کی)

### دوولسمه برخه

په دی وخت کی شیخ(رضی الله تعالی عنه) اسویلی وکیښ او وویل: الله ،الله الله دده دوست(یوسف) له ځانه په غیرو بوخت نکړی، اوهمداچی دسفررنځ اوکړاونه لیری شول، اوحال یی وموند، دمَلِک دنیږدی کسانوڅخه شو، اودمصرپه پادشاهی یی لاس ومونده،یاران یی دابتلائاتو دریاب ته واستول ترڅو غرق شویو ته نجات ورکړی، اودسیراوسلوک بیابانونوته یی ولیږی،ترڅومردان اوماشومان ـــسالکینـ دځیرونکوله منګلووژغوری، دی دطبع دقید څخه بهرشوی و، نوځکه خدای پاک هغه نیابت او ولایت اعطا کړ، همداسی چی نورو انبیاو اومرسلینو ته یی اعطاء کړی دی.

ای هغوکسانوچی ددی دنیا په بازارکی سرګرم یاست، پوه شی چی ډیرمخفی ماموران ستاستو دکړونو اواعمالو ناظردی اوڅوک یی نه پیژنی، داسی کړنه وکړی چی دی اعمالوڅخه مومنفی ګزارشونه مطلق فرمانرواته ورنشی.

خپل دین وساته، که نه خپله لاره اوخپل نسبت به درسره بیل کړم. په کورکی مه کښینه اوهذیان مه وایه: تاهغی لاری ته هدایت کوم چی ددنیا اوآخرت کټه پکی ده، اودا دهغی ورځی څخه پرهیزدی چی مال اودارائی اوزن اوفرزند به درته هیڅ ګټه ونه رسوی، اما کوم مال؟ هغه مال چی دحلالی لاری لاس ته راغلی وی، اوکه نه سبا درته ګټه نلری، تبارک وتعالی خدای فرمایلی دی: (یَوْمَ لَایَنْفَعُ مَالٌ وَلَابَنُونٌ اِلَّا مَنْ اَتَی اللهَ بِقَلْبٍ سَلِیْمٍ)-« هغه ورځ چی مال اواولادونه ګټه ونه رسوی، مګرچی بنده په منقاد زړه دحق په وړاندی حاضرشی.. سوره شعرا. آیه ۸۸».

مال اوثروت اوفرزند دمومن په زړه کی ځای نلری، اوزړه یی په هغی نه تسکین کیږی، بلکه ځان دهغوی نګهبان بولی، که مال ولری یافرزندان، دخدای درضاپه لاره کی تری ګټه اخلی، داپول افراد ددی په مثال دی چی که پادشاه یوه سړی ته امروکړی چی دیوی جاریی سره واده وکړه، اوجاریی ته یی هم آموزش ورکړی وی چی هغه مرکړه، سړی دځان سره وایی، که تینته وکړم نو دپادشاه لښکری می نیسی، که دامرڅخه سرغړونه وکړم نو پادشاه می وژنی، اوکه له کنیزی سره واده وکړم هغه می وژنی، پس ښه به داوی چی حسن ادب رعایت کړم اوپه سترګودعاقبت اندیشنی رانجه پوری کړم، اوداسی حکیمانه برخورد وکړم چی دجاریی له لاسه وژل ونشی، اوپه سلامته شپه اورځ بیګاه کړم،(دنیا ټوله وژونکی جاریه ده، که له هغی سره درست مخامخ شی، نشی کولای درته زیان ورسوی، اوپه غیرصورت کی ډیرمردان له دغی عجوزی سره واده ته غاړه ایښی،اودهماغه زفاف په شپه یی هلاک کړی دی.)دنیا داسی زوجه ده چی ریښتینی مردان ورسره هیڅکله همبستره شوی ندی، دحق دمردانو سلامت له دنیا څخه په زهد

اوعقبی ته رغبت دی. که دحق په اراده ددنیا یوځښېږه مومن ته مخ کړی، باید وګوری اوځیرشی چې څرنګه له هغی سره برخورد وکړی، باید په ویښ زړه اوباطن سره اوپه پوره آګاهی سره له هغی سره مخ شی، ترڅو چې زړه سلیم دی اووکولای شی دحق پروړاندی حاضرشی، پرته له هرډول آفاتواونفاقه اوپرته له ریا اوپرته له خلکوپه تکیی کولو، حضور.

ای مریده، ای دقدرپه بیابان کی سرګردانه، پوه شه چې اړیی ترڅودکوردننه له ککړتیاو پاک کړی. دزړه دکوررزینت په درهم اودنیاراوجواهراتونه ترلاسه کیږی، لازمه ده چې زړه ددنیا اوشهواتو اوژرتیریدونکولذاتوڅخه پاک کړی، مرګ تل په یاد ولره، اودهغی وروسته زمانه هم یعنی دمحاسبی اوجزاء ورځ هیره نکړی، هیلی دی مهاری کړی، ځکه دژغورنی یو عامل دامل(هیلو) قصردی. همداوس ځان دیوه مړی پشان وګڼه، هیلی اوآمال به له منځه لاړی شی.دزهد اوفناجامی په تن کړه، اودنبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) ګټورو وینا ته غوږشه چې فرمایی: (اِكْفُلُوا لِی بِستٍ،اَكْفُلْ لَكُمْ بِالْجَنَّةِ: اِذا حَدَثَ اَحَدُكُم فَلا يَكْذِبْ، وَاِذا اُتْمِنَ فَلا يَخُنْ،وَاِذا وَعَدَ فَلَا يُخْلِفْ، كُفُّوا اَيْدِكُم وَغُضُّوا اَبْصَارَكُمْ، وَاحْفَظُوا فُرُجَكُم)-«شپږشیان زماه سره تعهدکړی:زه به هم دجنت تعهد درسره وکړم: هرکله که یوه له تاسو خبری کولی ، دروغ دی نه وایی، هرکله که داعتماد وړوګرځید،خیانت دی نکوی، هرکله که یی وعده وکړه خلاف دی نه کوی،خپل لاسونه وساتی له تجاوزاوتیری څخه، سترګی له نامرموپتی کړی، اوخپل فرج دګناهونو له کولو څخه وساتی».

هرکله که دپاک زړه خاوندان شوی،نودحق بلنه به زړه کی واوری، هرکله که دخوف اورجاء کمال ته ورسیده، دحق خطاب به درته وشی، ای زویه ځان دقدرداّس ترپښولاندی واچوه، په هرحال کی باید دته تسلیم و. هرچاچی دخدای لپاره ځان دنابودی پروړاندی ودراوه، خدای به هغه وساتی، اوکه دآزمایښت په خاطر، غیرله دی څخه و، ځان دده په لمنه کی واچوه اودقضا دغیشی موخه وګرځوه،که ددی غیښی موخه وګرځیدی ، پوه شه چې نابودی اونیستی په پایله کی نلری.

په کورکی له کښیناستوډډه وکړه، زما خواته راشه اووینا می په غوږکی ونیسه، ولایات اومقامات دلته ممکن دی. ای په کاراوکسب سرګرمه اوای په ژوندانه کی ډوب شویه! زیاروباسه چې کسب دی دعایلی اوزړه دی خدای ته ځیروی. داسی ډلی شته چې روزی یی دغوښتنی په پایله کی ورته رسیږی، ولی بله ډله پرته له غوښتو بریالی دی، دخلکوڅخه یی نه اخلی.

پوه شه چې حلال کسب سنت دی، اوسوال اوغوښت دکمزوی نښانه ده، اوتکدی له لتی اوسهل انګاری څخه دی، البته کله هم سوال دآزمایښت په خاطر کیږی، نه دتکدی لپاره، ځکه سائل خپله تری ګټه نه اخلی، اوهغه په واقع کی دشپی دسوال په شان دی چې پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (لَا تَرُدُّوا سُؤالَ الَّيْلِ فَاِنَّهُ قَدْ يَاْتِيْكُم مَنْ لَيْسَ بِجِنٍّ وَلاَ اِنْسٍ لِيَنْظُرَ مَا تَصْنَعُونَ فِيْمَا خَوَّلَكُمُ الله عَزَّ وَجَلَّ)-«دشپی غوښتنه(سوال) مه ترک کوی، ځکه چې نه جن اونه هم انس دی- فرشتی تاسوته راځی ترڅووګوری چې هغه نعمتونه چې خدای پاک تاسوته درکړی څرنګه استفاده کوی، نوځکه بنده تل دسوال اوغوښتنی پوسیله ترآزمایښت لاندی راځی ترڅو چې دده دشکرانی اندازه دهغی په مقابل کی چې خدای پاک ورته اعطاء کړی معلومه کړی».

له علماوسره په ناسته ولاړه کی کوتاهی مکوه، داهل قبورو زیارت دمنتبه کیدوپه جهت ترسره کړی، له صلحاوسره همناستی شی، ښایی په پایله کی درته دزړه صفایی پیداشی، هرکله که داوامرو اونواهیوپه جراءکی ساعی وی، روزګاربه درسره مرستندوی شی. وایی چې عبدالله بن زبیربه داونی یوځل ډوډی خوره.

دحال په ثبات به لاس ونه مومی ترڅو دیوه مات لوښی په څیرنشی چی اوبه پکی ځای نه نیسی، یا دهغی کښتی په څیر چی خضرعلیه السلام سوری کړه، ترڅو دظالمانو له خراج څخه خلاصه شی، اوددی ماتی په اثردی چی دحال جمع به درته حاصله شی، اودتفرقی اوحال له کثرت څخه به خلاص شی. هغه باندی چی خدای رحم ونکړی داورخواته به ځی.

**لویه خدایه، له تاڅخه عفوغواړم، لویه خدایه، له تاڅخه غواړم چی زښتی می پتی کړی. لویه خدایه له څخه ثبات اوپایداری غواړم، لویه خدایه زمونږ زړونه په خپله رضاسره خوښ کړه. آمین!**

خدای درسیدولپاره دفرایضوترسره کول کفایت کوی. ای صادقه مریده، دخدای دربندګی لازم دی. ترڅو دګاونډی په څواک واثق یی ترڅوپه مال اوثروت اوجامو اوعمامه باندی زړه خوښی یی؟!

داولیاءالله قوم نفس اودطبع هواوی ویلی کړی دی، ترڅومعنوی فنا ته رسیدلی دی اودحق ترسرپرستی لاندی شوی دی، دوی دحق دقدرت په لاسونوپه ښی اوکیڼ لوری اړول کیږی،( **نُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذُرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ**)-«مونږدوی په ښی اوکینه خوا اړوو، اوسپی یی په دواړو لاسونو ددوی دغارپه خوله کی و. سوره کهف آیه ۱۸».

دناروغیو دوا له ګناهونو اومعاصیو څخه لیری والی دی، باید دنورو له اذیت اوآزارڅخه لاس په سرشو، پښی باید دبدیوخواته اویا دپادشاهانو اواربابانو دروازو ته دطمع په خاطر، ونیسی، اوسترګی دغیرمعقول له لید څخه محرومی کړی، ترڅوزړه محبوب خواته والوزی. هرکله که حسن ادب دمطلوب کمال ته ورسید، دپیغمبرپه صفت باندی بدلیږی. دباطن حکیم زړه ته وایی، کوم شی تاته کفایت کوی؟ زه دخادم په شان ستاپروړاندی ولاړیم، اوته دحق پروړاندی مقیم یی، خلوت ستادناوی حجله ده،په دی حجله کی زیاروباسه ترڅودبریالیتوب شاهد په غیږکی ونیسی، اوځان چمتوکړی ترڅودمحاسبی په وخت سرلوړی شی.

زماڅخه دنکیراومنکرڅخه وپوښته، چی څه ډول په قبرکی درسره برخورد کوی، تاته خبردرکوی چی آیا دمذنبینو له ډلی یی اوکه نه؟ په زړه کی مذموم یی اوکه مستحسن؟ آیا ددوزخ اهل یی که دجنت؟ عاقبت مجهول دی، اوپه ننی وضعیت باندی مه مغروره کیږه. ای زویه دشپی ورخی کیسه مکوه، اودورځی دشپی حال مه وایه، هغه څه چی تیرشول نه راګرځی، دنن په فکرکی اوسه غفلت مکوه، دغفلت نښانه دجاهلانو سره ناسته ده، دهرچاپه څیره کی دی چی دحق دامارت نښان ونه لید ورته مه نیږدی کیږه، دهغه چاسره مه کښینه چی دنفس ترولکی لاندی وی، اودخدای پروړاندی بی شرمه وی. خدای دوستی داسی کارندی چی په ظاهرسنګارونه اوپه سترګورانجه پوری کولو ترسره شی.

ای نادانه! دهغه اوبل درګاه ته مخ مه اړوه، شاید کومه ګټه ترلاسه کړی، آیا تراوسه دحق په درګاه مقیم شوی یی، اوله خلکواوپه هغوی له تکیی کولولیری شوی یی؟ آیا په خلوت کی دی دزړه اوباطن کی دی دخدای امراونهی ترکتنی لاندی نیولی؟ کوم وخت په خلوت کی په ځان بوخت شوی یی اوپرځان دی موکلی ملائکی احترام کړی.؟ترڅوتا دپاکانوله ډلی وشمیرو؟ پس کله له ظاهری اعمالو څخه لیری کیږی؟ کله دحق پروړاندی مقیم کیږی؟ کله به ستاژغورنه اوبزرګی معلومه شی؟ ترڅودمحمّد(صلی الله علیه وسلم) دامت له بزرګانو وګڼل شی.؟( **اَلْعُلَمَآءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِياءِ**)-«علماء دانبیاو وارثان دی». دوینا اوکړو اواسم اورسم له مخی نبوت اسم دی، رسالت لقب دی، دنبوت اورسالت دوره ختمه شوی، ولی دولایت زمانه باقی ده.

(اَرَضِيْتُم بِالْحَياةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ)، ددينا ژوند په شهوتونو اونفس په هوا ولاړه ده، ددينا ژوند عبارت دی خلکوته مخ اړول، له حق څخه ليری کيدل، دنفس غوښتنوته تسليم دعبادت دترک موجب دی، ولی هرکله که دی باطن په صالح عمل سره سنګارکړ، دنفس اوطبع له هوی څخه به خلاص شی، اودسرکشه نفس په خوله به قبضه ولګوی.

داود عليه السلام خپل زوی سليمان عليه سلام ته وويل: (ای ګرانه زويه ورووسته له مسکنته خطاڅومره زښته ده!! اوترهغی لا هغه زښته ده چی عابد ترک دعبادت وکړی)

پيغمبراکرم(صلی الله عليه وسلم) فرمايلی دی: (اِنَّ الْقُلُوبَ لَتَصْدَ اُ وَاِنَّ جَلاءَهَا قِرآءَهُ الْقُرآنِ)-«هماغه زړونه زنګ وهی، اودهغی ځلا دقرآن تلاوت دی».

**لويه خدايه مونږته هدايت وفرمايه، په مونږرحم وکړه، اوخپلی پيژندنی ته موراهنمايی کړه، لويه خدايه،په هرځای کی چی ياستو مبارک مو وګرځوه. آمين!**

**«ربناآتنا فی الدنيا حسنه وفی لاخرة حسنه وقناعذاب النار»آمين.**